د افغانستان اسلامی امارت
د امارتي شرکتونو لوی ریاست

**ارزاقو امارتي‌شرکت؛ د خوراکي توکو او اقتصادي پرمختګ سرچینه**

ارزاقو امارتي‌شرکت د افغانستان له مهمو دولتي‌شرکتونو څخه شمېرل کېږي، چې د خوراکي توکو د خوندي ساتلو، ذخیره کولو، لېږد او وېش چارې په مسوولانه توګه پرمخ وړي.

د دې‌شرکت اساسي موخه دا ده، چې دولتي او غیردولتي ادارو ته لوړ معیار لرونکي، باوري او پر وخت خدمتونه وړاندې کړي او د خوراکي توکو اړینې اړتیاوې پوره کړي.

دا مهال ارزاقو امارتي‌شرکت له څلورو کلیدي وزارتونو (لوړو زده کړو، پوهنې، کار او ټولنیزو چارو او عامې روغتیا) سره رسمي تړونونه لري او ژمن دی، چې د هغوی د خوراکي اړتیاوو پوره کولو ته دوام ورکړي.

په تېرو کلونو کې یادشرکت د پام وړ پرمختګونه کړي دي. ارزاقو امارتي شرکت اوس مهال د دولتي ادارو ترمنځ د اعتماد وړ یوه‌سرچینه ګڼل کېږي.

دغه‌راز، شرکت د خپلو سوداګریزو پلانونو د لا ښه کولو لپاره پرله پسې هڅې روانې کړې دي.

دشرکت مسوولین په دې هڅه کې دي، چې خپل فعالیتونه لا پراخ کړي، نوښتونه رامنځته کړي او یوازې د دولتي ادارو ترڅنګ د هېواد د عامو وګړو خوراکي اړتیاوې هم پوره کړي. دا به نه یوازې د اقتصادي ودې لامل وګرځي؛ بلکې د هېواد په بازارونو کې د خوراکي توکو کیفیت او خوندیتوب هم باوري کړي.

همدارنګه د ارزاقو امارتي‌شرکت رهبري پلاوی له ملي او سیمه ییزو سوداګرو غوښتنه کوي، چې په دغه‌شرکت کې پانګونه‌وکړي او خپلې مالي سرچینې د هېواد د اقتصادي پرمختګ په لور ولګوي.

په دې توګه به نه یوازې د پانګوالو شتمنۍ خوندي شي؛ بلکې د هېواد زیاترو فني او غیر فني کسانو ته به د کار زمینې برابرې شي. **انشاءالله**

